**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**د افغانستان لپاره د سرمنشي د ځانګړې استازې روزا اتونبایوفا وینا**

**نیویارک، ۲۰ ډسمبر ۲۰۲۲**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

***

آغلې رئیسې،

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې په څیر په دغه منصب کې زما په لومړیو دریو میاشتو کې ما تر ممکن حده د افغانستان له زیاترو برخو لیدنه ترسره کړه. کوم څه چې زه یې تر هر څه زیاته هیښ کړم د زیات شمېر افغانانو ناخوالې دي څوک چې په خورا بې وزلۍ او د خپل راتلونکي په اړه په ناڅرګندتیا کې ژوند کوي. له هیواد څخه د لېدنو پرمهال زیات شمېر یې ما ته وویل چې دوي مازې ژوندي دي. زما همکار مارتین ګرفتیس به د بشري وضعیت په اړه معلومات وړاندې کړي. تر سختو بیړنیو اړتیاوو ورهاخوا، افغانستان یو داسي هیواد دی چې د لسیزو جګړو ځپلی.

طالبان په اساسي ډول پر هېواد واکمن دي، خو نه شي کولای د افغانستان دننه فعالو ترهګرو ډلو پر وړاندې د قناعت وړ مقابله وکړي. موږ په ځانګړي ډول د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د وروستی فعالیت او د روسیې فدراتیف او پاکستان پر سفارتونو او دغه پر هغه هوټل د بریدونوپه اړه خورا اندېښمنه یو، چېرې چې زیات شمېر چینایي اتباع اوسېدل. د دغو بریدونو په پایله کې د پام وړ ولسي مرګ ژوبله اوښتې. له دې سره سره، د افغانستان د خلکو لپاره د امنیت او د تګ‌راتګ د ازادۍ عمومي احساس پر ځای پاتې دی. له بلې خوا موږ د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو پر بل د ډزو په اړه سخت اندېښمن یو. موږ د تاوتریخوالي په کمولو کې د ټولو هلو ځلو هرکلی کوو.

د افغانستان په دننه د طالبانو په وړاندې کوم څرګند د پام وړ سیاسي آپوزیسیون نه تر سترګو کېږي. د جمهوریت جلاوطنه سیاستوال، البته سرسخته منتقدین دي، خو دوي تیت پرک دي او څرګندونې یې په افغانستان کې د خلکو لپاره کمېدونکې انګازې لري. طالبان د هر ډول بین الافغاني خبرو اترو اړتیا ردوي او ادعا کوي چې د هغوي حکومت په بسیا ډول ممثل دی. لکه څنګه چې ما تاسو ته په اکتوبر میاشت کې د Arria-formula د غونډې په جریان کې معلومات درکړل، یوناما د پراخې مشورې او استازیتوب په پار په ټولو کچو فشار ته دوام ورکوي. موږ همدارنګه په افغانستان کې له طالبانو پرته له زیات شمېر نورو د مدني ټولنې او سیاسي اشخاصو سره تعامل جاري ساتلی. موږ باور لرو چې د افغانستان لپاره د پرمختګ یوازینۍ لار د یوه لا زیات کثرتپاله سیاست له لارې ده، چیرې چې ټول افغانان په ځانګړې توګه ښځې او اقلیتونه د ځان استازیتوب کوي او په پریکړه کولو کې ریښتینې ونډه لري. اوس په څرګند ډول حال دا نه دی. پر دې سربېره، رسنۍ او مدني ټولنه لا وار د مخه له سختو مالي محدودیتونو کړیږي، د برحاله امنیتي ادارو له خوا د تهدیدولو او وخت نا وخت د ځپونکو کړنو له لارې ځپل کېږي.

د طالبانو د ټولنیزو پالیسي ګانو د زیاتېدونکي شدت په پام کې نیولو سره د مخالفو غږونو ځپل د تاسف وړ دی. موږ زیات شمېر فرمانونه لېدلي چې په ځانګړي ډول د ښځو لپاره مضر ګڼل کېږي. د نوامبر له ۹ نېټې راهیسې ښځې عامه پارکونو، حمامونو او جمنازیومونو ته له تګ څخه منع شوې. د هغوي ټولنیزه فضا د هغوي د سیاسي فضا تر حده محدوده شوې. د منځنیو زده

کړو ممانعت په دې مانا چې په دوه کلونو کې به هیڅ نجلۍ پوهنتون ته نه داخلیږي. دغه پرېکړه تر ډېره حده د افغانانو او آن د طالب مشرتابه ترمنځ ناخوشاینده ده. پر دغې پرېکړې د ټولې اسلامي نړۍ له خوا نېوکې شوې. دغې پرېکړې له نړیوالې ټولنې سره د طالبانو اړیکې کمزورې کړې. خو بیا هم پر ځای دی چې نن ورځ داسې زیان رامنځ ته کوي چې په راتلونکې کې به تر ډېره احساس شي. د نومبر پر ۱۳ نېټه طالبانو خبر ورکړ چې د طالبانو مشر هبة الله اخندزاده امر کړی چې قاضیان دې له شریعت سره سم د شرایطو د پوره کېدو په صورت کې د اعدام او بدني سزاګانې چې حدود او قصاص په نامه یادیږي، پلې کړي. یوناما مستند کړې چې دغه سزاګانې د طالبانو له بېرته واکمنېدو راهیسې ترسره شوې دي. خو د طالبانو د مشر د لارښوونې له خبرتیا را وروسته په زیاتېدونکې ډول عامې شوې.

له بشري حقونو څخه د سرغړونې په څیر د دې بدني سزاګانو نړیواله نیوکې د طالبانو له لوري د اسلام ضد هغو په توګه رد شوې. موږ له طالبانو غوښتي چې د بدني تنبیه د سزا په ګډون شریعت په داسې طریقه تطبیق کړي چې د درد مخه ونیسي، څرنګه چې دغه چاره زیاتره اسلامي هیوادونه ترسره کوي. د ډسمبر پر ۷ نېټه، د راپورونو له مخې د قصاص سزا د تطبیق په څیر په قضايي ډول موافقه شوی لومړنی علني اعدام، د قتل عمد د هغې قضیې لپاره ترسره شو چې په ۲۰۱۷ کال کې ترسره شوی و. په دغې پېښې کې لوړ پوړو طالب چارواکو ګډون کړی و. زه یې دلته یو ځل بیا یادونه کوم د کوم څه په اړه چې ما یې برحاله چارواکو ته ور باندې ټینګار کړی: د اعدام سزا د بشري حقونو د نړیوال قانون له اساسي اصولو سره په تطابق کې نه ده. ملګري ملتونه په مساوي ډول پر ټولو هغو هیوادونو نیوکه کوي چې د اعدام بدني سزاګانې پلې کوي.

دا واضح ده چې د یو لړ موضوعګانو په اړه د یوناما او د برحاله چارواکو ترمنځ د دریځونو سخت تفاوتونو موجود دي. موږ، د ملګرو ملتونو په څېر، د بشري حقونو د اندېښنو او د بشري حقونو د نړیوال قانون د مشخصو سرغړونو په اړه له طالبانو سره روان ډیالوګ لرو. موږ له طالبانو سره د یو شمېر موضوعاتو په اړه توافق نه کوو، خو تمرکز د افغانستان د ښې راتلونکې په هیله د خبرو اترو پر دوام دی، او باید وي، چېرې چې هر څوک – ښځې، نارینه، نجونې او هلکان – کولی شي په وقار او مساواتو سره ژوند وکړي.

آغلې رئیسې،

له دې سره سره ځینې مثبت پرمختګونه هم شته، په ځانګړي ډول په اقتصادي ډګر کې. د اداري فساد عمومي کچې د جمهوریت په پرتله د پام وړ کښته دي، خو په تېرو شپږو میاشتو کې د زیاتوالي اندېښمنونکې نښې شته، په تېره بیا په سیمه ییزه کچه کوچني فساد. برحاله چارواکو په ۲۰۲۱ کالو له ۲۰ سلنه اقتصادي کمښت سره سره د ۲۰۲۲ کال په لومړیو لسو میاشتو د جمهوریت په ۲۰۲۱ او ۲۰۲۰ کلونو د راغونډو شویو عوایدو په پرتله د زیاتو عوایدو د راغونډولو خبر ورکړی. له دغو عوایدو سره او د حکومت د لګښتونو د راکمولو له لارې، طالبانو د خپلې عملیاتي بودجې تمویل تنظیم کړی او په ډاګه کړې یې ده چې هغوي د ځینو پراختیايي پروژو د پیلولو لپاره منابع لري.

طالبان همدارنګه توانېدلي چې کلي اقتصادي ثبات وساتي، البته د اقتصادي فعالیت په خورا ټیټه کچه کې. یو کال وړاندې د اسعارو د بیو تر سختې خرابۍ وروسته، افغانۍ په عمومي ډول باثباته پاتې شوې ده. د جمهوریت پرمهال د شاوخوا ۷۰۰ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله، روان کال صادرات د ۱.۷ میلیارده امریکايي ډالرو تاریخي کچې ته رسیدلي.

برحاله چارواکي يوه داسې اقتصادي ستراتيژي تطبيقوي کومه چې پر ځان بسانيې تمرکز کوي. دوي د کرنې، خړوبونې، زېربنا، د اوبو مديريت، کانونو او صنايعو په څېر سکتورونو کې پانګونه کوي، کوم څه چې د اقتصادي ودې بنسټ برابروي. طالبانو خصوصي سکتور د اقتصادي ودې لپاره د يوه کليدي لامل په څېر تشخيص کړي او هڅوي د خصوصي سکتور د فعالينو اندېښنو ته يو ډول ځواب ويونکي دي. يوناما د ښځو د سوداګرۍ خونې په ګډون د خصوصي سکتور له فعالينو او سازمانونو سره په منظمه اړيکه کې ده. د زياتې پانګونې اصلي خنډ د نړيوالو مالي معاملو لوړ لګښت دی.

په داسې حال کې چې د طالبانو اقتصادي مديريت د تمې خلاف لا زيات موثر دی، همدارنګه دا هم بايد ومنل شي چې نړيوال مرستندويان تر نيمه يې زيات نفوس ته خواړه برابروي. د بشري مرستو د رسولو په پار نغدو تاديات ته اړتيا ده، چې په غير مستقيم ډول اقتصاد ته نغدې پيسې تزريق کوي. له دغې مرستې پرته به د افغانستان انځور خورا ناوړه و.

په پای کې، داسې شواهد شته چې طالبان تر اعلان مخکې او وروسته د کرل شويو کروندو د تخريب له لارې د کوکنارو پر کښت او نورو نشه يي توکو خپل هغه بنديز تطبيقوي کوم چې په اپريل مياشت کې اعلان شوی و. د را روان کال تر لومړيو پورې به موږ د دغه بنديز د واقعي تطبيق د تاييدولو وړ نه يو خو تر شا يې قصد او اراده د ستايلو ده. له دې سره سره، دغه بنديز به د انفرادي کروندګرو پر عايد منفي اغيز ولري، ځکه چې د معيشت کم شمېر بديل پروګرامونه ترسره شوي.

آغلې رئيسې،

دا يو څه مثبت اقتصادي پرمختګونه ښايي د پايښت وړ نه وي که چيرې د افغانانو ريښتينو اندېښنو ته رسيدګي ونه شي. د اکتوبر د ۱۱ او د نوامبر د ۸ نېټو ترمنځ يوناما په ۱۲ ولايتونو کې د شريکباڼو ناستې ترسره کړي کومې چې د دې لپاره غوره شوې وې چې د ټولو افغان ټولنو او سکتورونو استازيتوب ډاډمن کړي. موږ د ۱۸۹ ښځو او د ۸۳ برحاله چارواکو د استازو په ګډون له ۵۱۹ ګډونوالو سره تعامل وکړ. د خلکو له خوا په ډاګه شويو اندېښنو د نجونو پر زده کړو له بنديز، د روغتيايي اسانتياوو له نشتوالي، د خلکو له رواني ستونزو، بې وزلۍ او اقتصادي ناامنۍ او د قومي لړکيو له تبعيض سره تړاو درلود. طالبانو دغو موضوعاتو ته رسيدګي نه ده کړې او په زياترو مواردو کې د هغوي پرېکړو دغه موضوعات لا پسې ناوړه کړي.

خو د شريکباڼو د دغو مباحثو پرمهال، افغانان همدارنګه د نړيوالې ټولنې د تګلارې په اړه هم اندېښمن وو. د دوي د داسې پروژو هيله ځرګنده کړه کومې چې اوږد مهاله وي، په کومو کې چې د صدقو پر ځای د کار په بدل کې نغدې پيسې شاملې وي، کومې چې لا زياتې مشورتي او مشارکتي وي او د پراختيا محوره وي. له دې سره سره، په اوسنيو شرايطو کې مرستندويان د بشري مرستو له برابرولو ور هاخوا زړه نه ښه کوي. تر هغې چې نجونو له ښوونځيو محرومې وي او برحاله چارواکي د نړيوالې ټولنې نورې په ډاګه شويو انديښنو له پامه غورځول جاري وساتي، موږ د معضلې په يوې برخه کې بند پاتې يو. په يوناما کې موږ داخلي کتنه ترسره کوو څو دا و ارزوو چې زموږ د ماموريت په تطبيق کې کوم څه مؤثر وو او کوم څه نه. دغه چاره به زموږ د راتلونکي ماموريت په اړه د سپارښتنو په رامنځ ته کولو تمام شي. خو په عام ډول موږ په دې باور يو چې له برحاله چارواکو سره تعامل بايد په يو شکل نه يو شکل ادامه پيدا کړي. څرنګه چې پرون تاسو پخپله له ښځينه بشري کارمندانو څخه واوريدل، افغانان د نړيوالې ټولنې له خوا دوامدار تعامل غواړي او په دې باور دي چې دغه کار يوازې له برحاله چارواکو سره د زيات تعامل له لارې ترسره کيدای شي څو مثبت بدلون رامنځ ته شي.

د یوناما تمرکز باید پر افغان وګړو پاتې شي، د هغوي لپاره د ژوند-ژغورنې بشري مرستې برابرې کړي، د بنسټیزو حقونو او آزادیو لپاره د هغوي غوښتنې مطرح شي، او زموږ په شتون سره د دې هیله ولرو چې افغانستان به له نړیوالې ټولنې څخه نه منزوي کېږي. موږ دغو اهدافو او له طالبانو سره د مثبت تعامل لپاره د فضا ساتلو هلو ځلو ته ژمن یو. خو موږ باید دغه کار د واقعیت له احساس، زغم او د وضعیت له مناسب درک سره، څرنګه چې وده کوي، ترسره کړو.

مننه.

*****